# د اندېش شمس القمر عشقيه شاعري(يوه تنقيدي څېړنه)

**The adoration poetry of Andesh Shamsul Qamar(A critical Review)**

Dr.Nasrullah Khan Majnoon[1]
nkbmajnoon@gmail.com
03025520067

Issn 2304-1463

## Abstract:

**Love ,affection and adoration are the natural emotional feeling of humane. Even the animals and birds also can feel the warmth of love , affection and adoration.it is a universal truth that everything is happened through love, by love and for love. When we study the literature of the world everywhere love is the most common and precious feel as a whole. Pashto literature is also based on the main theme of love. This paper is going to describe the colour of love affection and adoration of the most popular modern poet Andesh Shams ul Qamar with a critical review of his poetry on the said aspect.**

عشق، مينه، خوښي او لو (Love) پهٔ مختلفو ژبو کښې هم معنې ټکي دي. د دې توري پهٔ هره ژبه کښې جُدا جُدا تعريفونه شوې دي ولې عشق يوه داسې لا فاني او افاقي جذبه ده چې د دې تعريف کول پهٔ ټکو کښې ډېر ګران کار دے. پوهانو چې کوم تعريفونه کړي دي د دغو ټولو نه مجموعي دا تأثر ولاړېږي چې عشق هغه افاقي جذبه ده پهٔ کومه کښې چې يو انسان د بل انسان يا بل څيز پهٔ ظاهري خدوخال زړهٔ داسې وبائيلي چې پهٔ بار بار د لېدو او قربت حاصلولو د پاره لېواله شي. دا ټوله دنيا د عشق پامته داره ده بې لهٔ عشقه ژوند ناممکن دے. د حضرت آدمؑ نه واخله تر دې دمه او لا پهٔ وړاندې دغه د عشق جذبه او سلسله جاري ده. د عشق دا ګوهر صرف د انسان د پاره پېدا شوے دے عشق د انسان پهٔ فطرت کښې د ازل نه اخښلے شوے دے ځکه خو انسان د عشق نه بغېر ژوند نهٔ شي تېرولے.

مير عبدالصمد د عشق په حقله ليکي:

"عام اصطلاح میں عشق اسے کہتے ہیں کہ ایک شخص دوسرے انسان (کسی جنس کی صورت میں) کے ظاہری

[1]AP, Rahman Baba Chair Department of Pashto ICP.

حُسن، خدوخال، جوانی، قدو قامت یا نازواداپر فریفتہ ہو جائے اور ہر وقت اس کی محبت اور تصور میں گم رہے۔ اس کا وصل حاصل کرنے کی نہ صرف خواہش رکھے بلکہ اس کے لیے جستجو اور جدوجہد بھی کرے یہ ایک قلبی تعلق اور دلی لگاؤ ہوتا ہے جو ایک انسان کے دوسرے سے پیدا ہو جاتا ہے۔" [1]

پښتو ژبې او ادب بې شمېره نامتو شاعران ادیبان پېدا کړي دي. دغه سلسله لا مخ په وړاندې روانه ده. په دغه نامتو شاعرانو کښې د اندېش شمس القمر نامه هم لکه د نمر روښانه ځلېږي.

اندېش بابا د پښتو ژبې او ادب د نوې (جدیدې) شاعرۍ پهٔ نوموړو ترقي پسنده شاعرانو کښې شمېرلے کېږي. اندېش د جدیدې شاعرۍ یؤ نامتو شاعر دے چې د اکتوبر پهٔ شلمه نېټه کال 1933ء کښې د خدائي خدمتګار عمر خان بابا کره پهٔ بوکیانو مایار مردان کښې پېدا شوے ؤ. د پښتو ژبې او ادب سره شوق ئې د هغه ورځې نه ؤ کله نه چې خدائي خدمتګارو د باچاخان پهٔ مشرۍ کښې کلي پهٔ کلي جلسې جلوسونه کولو. د هغه وخت مشهوره مجله پښتون به دخدائي خدمتګارو کور کور ته رسېده. د دغه رسالې پهٔ واسطه د اندېش د شعروادب سره مینه پېدا شوه. د اتم جماعت پورې ئې تعلیم پهٔ مردان کښې حاصل کړو ولې بیا د ټي بي (TB) پهٔ رنځ ناروغه شو، چې دغه ناروغتیا ترې نوره زده کړه نیم ګړې پاتې کړه.

اندېش د خدائي خدمتګار تحریک سره کلک تړاو لرلو او دغه تړون ئې تر مرګه پورې ساتلے ؤ. د پښتو ژبې او د پښتون اولس د پاره ئې د ژوند پهٔ هر مېدان کښې اواز اوچت کړے ؤ. د هغهٔ پهٔ شاعرۍ کښې د ژوند پهٔ اړه د هرې موضوع شعرونه موجود دي. هغه پهٔ بنیادي توګه ترقي پسند شاعر ؤ.

پهٔ دغه دؤره کښې چې څومره شاعرانو او ادیبانو ژوند کولو ټولو د دغه یؤ مقصد د پاره هلې ځلې کړې دي چې د خپل غمژن، غریب، مفلس، بې وسه، بې روزګاره او مزدور کاره طبقې ته اسائشونه پېدا کړي، پهٔ معاشره کښې د برابرۍ نظام قائم کړي. د لرې او برې تعصب ختم کړي او معاشره پهٔ یوه سمه لاره روانه کړي. اندېش بابا هم پهٔ دغه مقصدي قلمکارانو کښې یؤ نامتو

نامه لري. د نورو موضوعاتو نه علاوه د اندېش بابا په کلام کښې د عشق په موضوع ډېره په زړۀ پورې شاعري شتون لري. د هغۀ پۀ کلام کښې د عشقيه شاعرۍ تله ډېره درنه ده. عشق څۀ څيز دے؟ د څۀ نه پېدا کېږي ولې پېدا کېږي او څنګه پېدا کېږي؟ دا داسې سوالونه دي چې بنده ورته حېرانېږي البته بنده پۀ دې نتيجه رسي چې دا ټولې هنګامې د حُسن لۀ وجې دي او د عشق پۀ زېږون کښې لوئې لاس د حُسن دے پۀ کومه شاعرۍ کښې چې عشقيه کلام نۀ وي نو خلق ئې نۀ خوښوي ځکه چې دا جهان پۀ عشق ولاړ دے، پۀ عشق ودان دے د دې ټول جهان هم دغه عشق کار ساز او پلار دے ځکه خو رحمان بابا وئيلي دي:

دا جهـــان دے خــدائے لــۀ عشـــقه پېــدا کـــړے
د جملــــــــهٔ مخلوقـــــــاتو پلـــــــــار دے دا [2]

پۀ دنيا کښې دا ټولې هنګامې د حُسن او عشق لۀ وجې ګرمې دي او دا هم يؤ منلے شوے حقيقت دے چې عشق د حُسن نه پېدا کېږي چې د دې خبرې پخلے خوشحال بابا هم کوي:

زۀ لۀ عشقه خبر نۀ يم چې عشق څۀ دے
هومره اورم چې لۀ حُسنه ئې اثر دے [3]

پۀ ټول کائنات د حُسن حکمراني ده. پۀ ټول کائنات کښې دا حرارت حُسن پېدا کوي. هر انسان په څۀ نه څۀ صورت کښې حُسن پرست وي پۀ حسن ورک لېونے وي. اندېش بابا هم يؤ حُسن پرست ؤ. پۀ حُسن مئين ؤ د حُسن پۀ حقله خپله نظريه داسې وړاندې کوي:

حُســــــن زمــــا د نظـــــر رنـــــګ تــــه وائــــي
مينــــــه د زړۀ د ربــــاب ترنــــــګ تــــه وائــــي
نــــۀ د ګـــل خـــوا نـــۀ د کاکـــل ســـيورے دے

وصـــــل لــــــوخړې د پتنــــــګ تـــــه وائــــــي[4]

د عشق مثال د پلِ صراط دے چې ډېر ژور او لوَړ ګړنګونه لري. سختئ او کړاوونه لري. پۀ دې لاره تګ د خطرنه خالي نۀ وي اندېش وائي:

نۀ پۀ خندا نۀ پۀ ژړا مې د چا زړۀ خپل کړو

داسې به څوک وي چې به ما له زما يار کړي زړګے

چې د هجران د تاؤ وهلو په لور مخ واړووم

ستا د جفا شپېره تبه مې غم خوار کړي زړګے.

عشق يوه داسې جذبه ده چې انسان اسمانونو ته رسوي. د عشق داسې پاکه او سپېڅلې جذبه ده چې انسان اور ته اچوي.عشق د انسان روح دے او د روح وظيفه ده. ځکه خو د عشق موضوع پۀ ادب کښې او پۀ خصوصي توګه پۀ شاعرئ کښې ډېره بيانولے شي.

د ادم پۀ خمير کښې عشق د ازل نه راغلے دے نو د دۀ خاوره هم د دردونو او غمونو پۀ اوبو اخښلے شوې ده .غمونه او دردونه د عشق سره لازم دي اندېش بابا هم د عشق دغه خړ او ژور درياب ته داخل شوے دے خپل محبوب لۀ ئې زړۀ ورکړے دے د خپل زړۀ حالات داسې بيانوي:

زړۀ مو ورکړو ماه جبينو ته کنګال کښېناستُو

د خپله لاسه مونږ پۀ پښو کښې د جمال کښېناستُو

ژوند په غمومو موږ او زړۀ مو د دړدونو باچا

ايله د مينې کاروبار ته اوس سنبال کښېناستُو[5]

مينه کوَل څۀ ګپ نۀ دے پۀ دې مېدان کښې د سر او مال قربانول وي. قِسما قِسم امتحانونه راځي. مينه کښې تهمتونه او بدنامئ راځي عاشق به دغه هر څۀ زغمي او دا ځکه چې

دا د هغۀ مجبوري وي د هغۀ زړۀ به تل ناقراره وي. هر وخت به د محبوب د وصال لېواله وي. د محبوب د لېدو تندې به هر وخت اخستې وي. مينه کۀ پۀ هر ملک کښې وي ولې بدنامه وي لکه چې اندېش بابا هم د دې خبرې تائيد کوي:

د رواجونو مقدس ائين کښې

کوم محبت دے چې بدنام نۀ دے

د هغۀ مينه پۀ چا ماته کړمه

هېڅ څوک پۀ شان د ګل اندام نۀ دے[6]

پۀ عشق کښې عاشق د خپل معشوق د پاره د اور سرو لمبو ته وردانګي. ځکه چې دا د معشوق حُکم وي. د اوبو چپو ته وردانګي ځکه چې دا د معشوق حُکم وي د غرونو نه رغړي ځکه چې دا د معشوق حُکم وي. عاشق د خپل عشق نه کله هم نۀ وروستو کېږي د خپل مقصد نه وروسته کېدل ورته خپله بي عزتي او بې غېرتي ښکاري عاشق چرته هم تېښته نۀ کوي اندېش بابا هم دغۀ حالات بيانوي .

چې مينه کښې خليل غوندې انګار کښې نۀ اودرېږي

هغۀ دې د مئينو پۀ قطار کښې نۀ اودرېږي

طوفان د رقابت وي کۀ تياري د بېلتانۀ

د مينې قافلې په يۀ ناتار کښې نۀ اودرېږي[7]

عشق کښې عاشق تل پۀ لټون کښې وي، نۀ ئې خوب وي نۀ خوشحالي او نۀ ئې خندا پۀ نصيب کېږي. عشق کښې شؤګېري وي. عاشق د خپل معشوق پۀ فکر کښې پۀ کټ، خاورو يا پوزي اوړي راوړي ولې خوب نۀ ورځي کۀ سترګې ئې پټېږي ولې د محبوب يادونه ئې خوب ته نۀ

پرېږدي.عاشق ته پۀ دغه کړاوونو او شوګېرو کښې تسکین وي او د محبوب د راتلو د انتظار لمن ئې کلکه نیولې وي.اندېش دغه حقیقت پۀ ډاګه کوي:

بې د لېلا د نامې نۀ شو په بل ټکي ککړ

وخت کۀ مجنون ته ټول ځنګل کړلو کتاب کتاب

هره شپه زۀ د انتظار پۀ سولۍ اوختمه

محبت نۀ مني مئین سره حساب کتاب[8]

" مینه پلِ صراط دے، د مینې دا لار بې شمېره ګړنګونه، لوړې، ژورې، سختۍ او کړاوونه لري. د ادم پۀ خمیر کښې کۀ عشق دے نو د دۀ خاوره هم د دردونو او غمونو پۀ اوبو اخښلې شوې ده ـ"[9]

د عشق لاره ډېره ازغنه ده پۀ دې لاره تګ د هر چا د وس کار نۀ دے پۀ دې لاره کښې غمازان دي، رقیبان دي او قِسما قِسم خنډان دي ولې عاشق د دغه ټولو تکلیفونو سره لاس پۀ ګرېوان وي هغۀ د عشق دغه غمونه، فریادونه، حسرتونه او ارمانونه خوښوي اندېش بابا وائي:

د زړۀ کور مې پرې ودان دے ،ستا غمونه مې ډېر خوښ دي

زما ژوند پرې ګلستان دے، ستا یادونه مې ډېره خوښ دي

پۀ سر سترګو مې قبول دي چې د مینې راپېرزو دي

دا زړۀ چاودې ارمانونه، حسرتونه مې ډېر خوښ دي[10]

هر عاشق ته خپل معشوق ډېر ګران وي او د هغۀ د پاره اوچت مقام لري هغۀ ته خپل محبوب د ټول کائنات نه غوره وي. ځکه خو هغۀ د خپل محبوب پۀ اشارو ژوند تېروي. د محبوب مرضي، رضا او حکم پۀ سر سترګو قبلوي چې څۀ د دۀ د محبوب خوښه وي هغۀ د دۀ خوښه وي.اندېش بابا وائي:

کلے زما او د جانان نۀ کېدو

خو بې د مینې نه ګزران نۀ کېدو

زړۀ کښې مې بل شُو د حسرت داغونه

ګنې دې کور کښې چراغان نۀ کېدو[11]

او بل ځاے وائي.

نۀ په ما مرګ د دلبر سود او نۀ ئې ژواک دے پېرزو

نۀ د انکار په طرف ځي نۀ د اقرار په طرف

مینه او زۀ دواړه پۀ هر حال د چوتي یاران یُو

مونږ کۀ د دار پۀ طرف ځُو کۀ د دیدار پۀ طرف[12]

ډاکټر اسرار د اندېش په حقله لیکي:

" ډاکټر عبدالخالق زیار چې اندېش ته د شاعرانو شاعروائي نو هسې ئې نۀ وائي. د شاعرانو دې شاعر د ځینو غزلونو قافیې او ردیفونه خپلو کښې داسې تړلي دي چې ډېر ښکلي نازک او نااشنا ترکیبونه ئې ترې جوړ کړي دي لکه د خیال په سیوري، د جمال په سیوري، د وصال په سیوري او د ټال په سیوري. د ټال په سیوري نه ئې چې کوم شاعرانه تصویر جوړ کړے دے د دُنیا په شعري ادب کښې به ئې مثال نۀ وي." [13]

د مینې پۀ کاروبار کښې هجران ډېر سخت وي د هجر اور د عاشق زړۀ د کباب پۀ رنګ پخوي . هجر د عاشق د پاره د مرګ نه کم نۀ وي اندېش هم د هجر غم ښکاره کوَل غواړي. د اشنا راتلل او بیا پۀ ببرته تلل دغه خاکه پۀ ډېر ښکلي انداز کښې پېش کوي پۀ کوم کښې چې هغۀ د محبوب د تلو او راتلو د ټال خیالي سیوري ته ناست وي لکه چې وائي:

یوه گړۍ مې نصیب نۀ شوه د وصال په سیوري

مینې مې د ہرې غرمې او ښبلې د خیال په سیوري

دغه دے راغے اشنا ، بیا هغه دے لاړو اشنا

د هجر سرې ورځې مې تېرې کړې د تال پۀ سوري[14]

هر چا ته خپل محبوب ښکلے ښکاري اندېش بابا چې هم کله پۀ لاره ښکلي وويني نو هغه ته د خپل محبوب يادونه مخامخ اودرېږي لکه چې وائي:

د دړد خوارۀ د غم مزې راوړي

زما احساس ما له تُحفې راوړي

ما له چې هر ښکُلے پۀ مخه راشي

ستا د يادونو گُلدستې راوړي[15]

هر عاشق د خپل محبوب پۀ عشق کښې ورک لېونے وي د محبوب هره ادا قبلوي اندېش بابا هم د زړۀ راز ښکاره کوي چې:

هغه کاکل هغۀ رُخسار به را نه هېر نۀ شي

ستا د ځوانۍ هغه روزگار به را نه هېر نۀ شي

وخت کۀ پۀ زړۀ ورله بلا بلا داغونه کېږدي

ستا د نظر د تیر گُزار به را نه هېر نۀ شي

منم حالات به د يادونو جنازه اوباسي

ستا د محل در و ديوار به را نه هېر نۀ شي[16]

پۀ عشق کښې زړۀ ډېر ناقراره وي. د تسکين د پاره لارې ګودرې لټوي ولې ټول کوششونه عبس لاړ شي عاشق د زړۀ دغه ناقرارۍ لۀ دارو لټوي او کله کله د ساقي جان پۀ در حاضري هم اوکړي او ورته لاس پۀ سلام شي چې:

دارو د زړۀ خانه خراب به نۀ وي

ساقي يۀ ګوټ قدرې شراب به نۀ وي

کۀ غم غلط شي لږ د دړد د احساس

چرته منګے چرته رباب به نۀ وي[17]

اکثر داسې کېږي چې معشوقې د وفا پۀ ځاے د جفا کارۍ لار ټينګه کړي تل ښکلي پۀ خپل حُسن باندې ناز کوي،غرور کوي او د عاشق زړۀ ته د سکون پۀ ځاے دړد رسوَل غواړي. انديش بابا هم د دغه قِسمه خوبانو پۀ حقله وائي:

په سر سايه د يار د خيال واخله

اے زما زړۀ د مينې حال واخله

زما د دور د خوبانو مينه

بس لکه سيورے د ديوال واخله[18]

او بل ځاے کښې عاشق او معشوق د مينې اخري انجام داسې پۀ ګوته کوي چې:

داسې بې ښې دومره بې قدره انسان نۀ وومه زۀ

په يۀ نظر د محبت باندې ګران نۀ وومه زۀ

ننني مينه د پرون پۀ کاڼو ګران دي تلل

جانان خو ؤ زما جانان، د جانان نۀ وومه زۀ[19]

غرض دا چې د اندېش بابا ټول کلام د عشقیه شاعرۍ نه ډک دے د هغه په هر یو غزل کښې د عشق په حقله څه نا څه اشارې مؤجودې دي. د حسن وعشق ټول واردات او روداد ئې د شعر په ژبه بیان کړې دي د محبوب بې رُخي، وفا، جفا، هجران، شؤګېرې، د محبوب نازو ادا وغېره د هغه د عشقیه شاعرۍ غوره موضوعات دي. هغه د عشق په دغه اوږد، پلن، ژور، لوَړ او بې ساحله مېدان کښې په دې نتیجه رسېدلے دے چې:

محبت دے، تمنا ده، انتظار دے

دغه ژوند دے، دغه ژواک دغه روزګار دے

ما مئین ته د ماښو خبرې مهٔ کړئ

محبت په کښې د سپي د لکۍ خوار دے[20]

## حواله جات(References)

[1] مير عبدالصمد، رحمان باباشاعرِ اسانيت، مكتبۂ شاهين، خيبر بازار پشاور، طبع نومبر ۱۹۷۴ء مخ ۱۲۴

[2]سيد رسول رسا ، د عبدالرحمان بابا ديوان، يونيورسټي بک ايجنسي، خېبر بازار،پېښور، ۱۹۷۶ء مخ ۱۵

[3] ډاکټر يار محمد مغموم، د خوشحال کليات، يونيورسټي بک ايجنسي، خېبر بازار،پېښور ، ۲۰۱۶ء مخ ۷۹۶

[4] انديش شمس القمر، پېمانه د غزل، (د انديش د غزل انفراديت از ډاکټر اسرار)، عامر پرنټ اېنډ پبلشرز، پېښور، ستمبر۲۰۱۵ء ،ص ۱۸۲

[5]هم دغه ،ص ۲۴۹

[6]هم دغه ، ص ۱۶۲

[7]هم دغه،ص ۱۸۷

[8] هم دغه ، ص ۶۱

[9]رحمان پوهنه، رحمان ادبي جرګه پېښور، د رحمان بابا عشق از پروفېسرمحمد يعقوب، ۱۹۹۳ء مخ ۲۰۷

[10] انديش شمس القمر، پېمانه د غزل،ص ۴۰۰

[11] هم دغه، ص ۵۸

[12] هم دغه،ص ۲۹

[13]هم دغه ص ۲۴

[14] هم دغه ،ص۷۱

[15] هم دغه،ص ۵۴

[16] هم دغه ،ص ۴۰۲

[17] هم دغه، ص ۱۵۶,۱۵۷

[18] هم دغه ،ص ۱۸۱

[19] هم دغه ،ص ۱۲۳

[20] هم دغه ص ۱۴۷